Australian Government
Australian Taxation Office

# که تاسو آرایشګر یا د ښکلا معالج یئ، نو ښډې ارزي چې پوه شئ چې د کوم شي لپاره مطالبه کولی شئ



**په کار پورې د اړوند لګښتونو د کسر لپاره مطالبه کول:**

- تاسو باید پیسې پخپله مصرف کړې وي او تاسو ته بېرته جبران شوې نه وي
- دا باید مستقیم ستاسو د عاید د لاسته راوړلو سره تړاو ولري
- تاسو باید د ثابتولو لپاره سند ولرئ.*

تاسو کولی شئ چې یوازې د کار پورې اړوند د لګښت د یوې برخې مطالبه وکړئ. تاسو نشئ کولی چې د لګښت د هرې برخې د کسر لپاره مطالبه وکړئ کوم چې مستقیم ستاسو د عاید د لاسته راوړلو سره تړاو ونلري.

* تاسو کولی شئ چې د ATO app د myDeductions وسیله وکاروئ چې د ټول کال په اوږدو کې ستاسو د لګښتونو او رسیدونو سوابق ساتئ.

## د موټر لګښتونه

**تاسو نشئ کولی** چې د کور او کار تر منځ د عادي سفرونو د لګښت لپاره مطالبه وکړئ، حتی که د عادي کاري ساعتونو څخه بهر کار کوئ – د بېلګې په توګه د شپې ناوخته یا اونۍ په پای کې سودا اخیستل.

**تاسو کولی شئ** چې د خپل موټر د کارولو د لګښت مطالبه هغه وخت وکړئ چې ستاسو مزل:

- په مستقیمه توګه په یوه ورځ د جلا دندو تر منځ – د بېلګې په توګه، د شخصي پاملرونکي په توګه مو له لومړۍ دندې څخه د معلولیت د ملاتړ کارکوونکي په توګه دویمې دندې ته
- په ورځ ورته د کار ګمارونکي لپاره بدیل کاري ځای ته او له هغه ځایه، لکه د ورته کارګمارونکي ملکیت د مختلف سالونونو ترمینځ
- له کور څخه مستقیم یو بدیل کاري ځای ته - د بېلګې په توګه، د ورځې لپاره ستاسو د عادي سالون پرته بل سالون کې کار کولو لپاره له کور څخه سفر کول.

که تاسو د موټر د لګښتونو مطالبه کوئ، تاسو کولی شئ چې د خپل کسر د محاسبه کولو لپاره د لاګ بوک (logbook) طریقه یا د سېنټ پر کیلومتر طریقه وکاروئ.

## د جامو او کالیو مینځلو لګښتونه (د بوټانو په شمول)

د یو څو استثناوو څخه پرته، جامې د کار پورې اړوند لګښت په توګه نشي کسر کیدی.

**تاسو نشئ کولی** چې د هغه عادي جامو د اخیستلو، کرایه کولو، ترمیم کولو یا پاکولو د لګښت مطالبه وکړئ چې تاسو د کار لپاره اغوستي وي، حتی که ستاسو کارګمارونکي تاسو اړ باسي چې دا واغوندئ او تاسو یوازې د کار په وخت کې دا جامې واغوندئ. 'دودیزې جامې' هغه دي چې خلک یې هره ورځ اغوندي – د بېلګې په توګه، تور پطلون یا توره لمن.

**تاسو کولی شئ** چې د هغه جامو د پیرودلو، کرایه کولو، ترمیم یا پاکولو لګښت مطالبه وکړئ چې که چېرې:

- محافظتي – جامې بېلابېلې بڼې او د کارولو ځایونه لري چې تاسو په کار کې د ټپي کېدو له ګواښونو او ناروغۍ ساتي. د بېلګې په توګه، مخکینۍ لمن
- اجباري یونیفورم – هغه جامې دي چې ستاسو ګومارونکی له تاسو غواړي چې یې په منظم او جدي توګه یې واغوندئ، دا د کارځای د تړون او پالیسۍ له مخې وي چې ستاسو سازمان ته په کتو توپیر لري

- نا-جبري یونیفورم چې له AusIndustry سره راجستر شوي (که باوري نه يئ له ګومارونکي سره مو پرې وغږیږئ).

**تاسو نشئ کولی** چې د کسر غوښتنه وکړئ که مو کارکوونکي لګښتونه درکوي یا تادیه کوي.

## د وسایلو او تجهیزاتو لګښتونه

**تاسو کولی شئ** چې د دغو لګښت وغواړئ:

- هغه وسایل یا تجهیزات چې تاسو د کار لپاره کاروئ، لکه د موم کڅوړه، د ویښتو پرې کولو اوزار یا د ویښتو سټایل کولو وسایل
- ستاسو د وسایلو او تجهیزتو لپاره بیمه
- ستاسو د وسایلو او تجهیزاتو بیا جوړونه.

که یو وسیله یا تجهیزات لګښت ولري:

- له 300$ څخه ډیر وي - تاسو د څو کلونو په دوران کې د لګښت لپاره د کسر مطالبه کوئ (په ارزښت کې کمښت)
- 300 یا لږ لګښت ولري (او د هغه سیټ برخه نه جوړوي چې له 300$ ډالرو څخه ډیر لګښت لري) - تاسو کولی شئ چې د ټول لګښت لپاره د سمدستي کسر مطالبه وکړئ.

**تاسو نشئ کولی** چې د هغو وسایلو او تجهیزاتو غوښتنه وکړئ چې ستاسو ګومارونکي یا بل چا ذخیره کړي.

که تاسو وسایل او تجهیزات د شخصي موخو لپاره هم کاروئ، تاسو یې یوازې د کار پورې اړونده برخه مطالبه کولی شئ. تاسو اړتیا لرئ د ترمیم لګښت د خصوصي او کار پورې اړوند کاروني ترمینځ تقسیم کړئ.

## د ځان زده کړې او مطالعې لګښتونه

**تاسو کولی شئ** چې د ځان زده کړې او مطالعې د لګښتونو غوښتنه وکړئ که مو کورس مستقیماً له کار سره تړاو لري او دا چې:

- هغه مهارتونه او پوهه ساتي او وده ورکوي چې ستاسو اوني کار ته ورته اړتیا ده — د بېلګې په توګه، د ویښتو لپاره د رنګ کولو پرمختللي کورس یا د میک اپ هنرمند لپاره په میک اپ کې د اوسني رجحاناتو روزنه
- ستاسو د اوسنی دندې څخه د عاید د زیاتوالي پایله یا احتمال شتون لري.

**تاسو نشئ کولی** چې د کسر غوښتنه وکړئ که مو زده کړه عمومي وي یا د دې لپاره وي چې نوې دنده پیدا کړئ. د بېلګې په توګه، که تاسو ویښتان یاست نو تاسو نشئ کولی د مطالعې لګښت ادعا وکړئ ترڅو تاسو وکولی شئ د میک اپ هنرمند شئ.

## د ښکلا لګښتونه

**تاسو نشئ کولی** چې د شخصي پاکوالي لګښتونو غوښتنه وکړئ؛ لکه د ویښتو مینځلو لګښتونه، کاسمیټکس، د ویښتو او پوستکي پاملرنې محصولات یا د ښکلا نور محصولات، که څه هم تاسو تمه کیدی شي چې په کار کې ښه سمبال شي. ټول د ښکلا محصولات شخصي لګښتونه دي.

## نور لګښتونه

**تاسو کولی شئ** چې د کار پورې اړوند د نورو لګښتونو برخه چې ستاسو په کار پورې اړه لري مطالبه وکړئ، په شمول:

- د شورا او مسلکي اتحادیې فیس
- تخنیکي او مسلکي خپروني
- د شخصي محافظت وسایل چې تاسو اخلئ، لکه دستکش، ماسک، سنټایزر یا د بکتریا ضد سپرې، په هغه صورت کې چې دنده مو درنه وغواړي چې له مشتریانو سره نیږدې اوسئ.

**تاسو نشئ کولی** چې د شخصي لګښتونو لکه سندرو د ګډون، ماشومپالنې، جریمو او د انفلونزا یا نورو واکسینو لګښت وغواړئ، ان که اړ وئ چې د کار لپاره باید دا وکړئ.

**تاسو نشئ کولی** چې د هغه کسر لپاره چې لګښت یې ستاسو د ګمارونکي لخوا ورکړل شوی یا تادیه شوی وي مطالبه وکړئ.

**دا یوازې یو عمومي لنډیز دی.**

د نورو معلوماتو لپاره ato.gov.au/hair ته ورشئ یا د مالیې له جواز لرونکي کارپوه سره خبرې وکړئ

NAT 75166PAS-03.2022 DE-39140